# پښتون حمزه

## د حمزه شینواري په شاعرۍ کې د قومیت تصور

(تجزیاتي مطالعه)

لیکوال: ډاکټر اباسین یوسفزی

۱۳۹۸ هـ. ش

پښتون حمزه

اباسین یوسفزی

۱۳۹۸ هـ. ش

# Pashton Hamza

Author: Dr. Abaseen Yousafzai

2019

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# پښتون حمزه

## د حمزه شینواري په شاعرۍ کې د قومیت تصور

## (تجزیاتي مطالعه)

لیکوال: ډاکټر اباسین یوسفزی

۱۳۹۸ هـ.ش

## د کتاب ځانګړنې

**د کتاب نوم:** پښتون حمزه – د حمزه شینواري په شاعرۍ کې د قومیت تصور

**لیکوال:** ډاکټر اباسین یوسفزی

**اهتمام:** څېړندوی ډاکټر عبدالاحد منګل

**ایډیټور:** څېړنپوه ډاکټر سید محی الدین هاشمي

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ کال:** ۱۳۹۸ هـ.ش

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**د چاپ ځای:** چهاردهي صنعتي مطبعه

ISBN: 978-9936-645-98-1



د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحیم



ترون

# د پښتو

په نوم

چې

ويلې هم شي

لوستلې هم شي

ليکلې هم شي

او کولې هم شي

# لیکلړ

**عنوان** **مخ**

ارزونکی نظر ........ ۱
سریزه ........ ۵

**لومړی باب**

**د حمزه شینواري د ژوند حالات**

ابتدایي حالات ........ ۱۵
تعلیم ........ ۲٤
مشغلې ........ ۳۱
د شاعرۍ ابتداء ........ ۳٦
د سلوک د لارې لټون ........ ٤۰
د مرشد نه لاس نیوی ........ ٤۳
عبدالستار شاه باچا (بادشاه جان) او د حمزه فکري روزنه ........ ٤٦

**دویم باب**

**قوم او قومیت (عمومي تصورات)**

قوم څه ته وایي؟ ........ ٤۹
ملت څه ته وایي؟ ........ ۵۰
د قومیت تعریف ........ ۵۸
د قومیت مثبت او منفي اړخونه ........ ٦۰
د مفکرینو د نظریو په رڼا کې راوتونکې نتیجه ........ ٦۵
تهذیب او ثقافت ........ ۷۸
مذهب ........ ۸۱

**دریېم باب**

**د حمزه بابا نه مخکې په پښتو شاعرۍ کې د قومي تصور لنډ جاج**

روښانیان او پښتون قومیت ........ ۱۱۰
رحمان بابا او قومیت ........ ۱۲۸

## څلورم باب

## د حمزه بابا په شاعرۍ کې پښتانه قدرونه


وړومبۍ برخه: خوی خصلت ............................................................. ۱۴۶
دویمه برخه: دود دستور/ رواجونه ..................................................... ۱۴۷
د حمزه بابا په شاعرۍ کې د پښتنو قدرونو ننداره ................................ ۱۵۳
ننګ او غیرت .................................................................................. ۱۵۳
پېغور .............................................................................................. ۱۵۶
مېلمستیا .......................................................................................... ۱۶۰
جرګه ............................................................................................... ۱۶٤
لوظ ................................................................................................. ۱۶۸
ننواتې ............................................................................................. ۱۶۹
پت ................................................................................................. ۱۷۱


## پنځم باب

## د حمزه بابا د قومي تصور امتیازات


مکمله پښتو د انسانیت معراج دی ................................................... ۱۹۲
دپښتو په ضد عمل د شر عمل دی .................................................... ۱۹۶


## شپږم باب


**نتیجه ............................................................................................ ۲۱۱**
حوالې او حاشیې ............................................................................. ۲۲۹
کتابیات .......................................................................................... ۲۴۸

# ارزونکی نظر

## د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو محترم ریاست ته!

د پښتونخوا د پیاوړي لیکوال او شاعر ښاغلي پروفیسر اباسین یوسفزي د پي ایچ ډي (Ph.D) ډیزرټېشن ((پښتون حمزه)) (د حمزه شینواري په شاعرۍ کې د قومیت تصویر- یوه تجزیاتي مطالعه) چې ۱/ ۵/ ۱۳۹۸ نېټې ($\frac{٣٠١}{١٦٢}$) ګڼه لیک په ملتیا مو دکتنې، اصلاح، سمون او ارزونکي نظر د څرګندونې له پاره راستولی و، دا دی له کتنې او لازم سمون وروسته یې په اړه خپل لیکلی ارزونکي نظر (تقریظ) د وروستیو اجرأتو له پاره وړاندې کوم:

امیر حمزه شینواری (۱۹۰۷- ۱۹۹۰م) زموږ د معاصر ادب له ډېرو نوماندو، مخکښو شخصیتونو او ځلندو ادبي څېرو څخه دی. نوموړی نه یوازې دا چې د پښتو پیاوړی شاعر دی، چې ((د پښتو غزل بابا)) په ویاړلي لقب نمانځل شوی او منل شوی، تر څنګ یې ښه نثر لیکونکی، څېړونکی، ژباړونکی، د داستاني ادبیاتو (لنډې کیسې، ناول، ډرامې، طنز، تکل او ...) نوښتګر لیکوال او پنځونکی او پر دې ټولو سربېره یو وتلی فلسفي، عرفاني، ښکلاپېژندونکی او پښتون پېژندونکي شخصیت هم و.

د بابا د علمي- ادبي شخصیت، ژوند او فن په بېلابېلو اړخونو تر دم ګړۍ په پښتونخوا او افغانستان کې پر خورو- ورو لیکنو سربېره علمي ادبي څېړنغونډو ته د لیکوالو او څېړونکو پر لیکلو، اورولو مقالو پرته په علمي- اکاډمیکو ادارو کې سکالرانو او زده کړیالانو د ماسټرۍ، ایم فل او پي ایچ ډي په کچه د لوړو تعلیمي ډګریو د ترلاسه کولو له پاره تېزسونه او ډیزرټېشنونه هم لیکلي، چې دا ستاسې په لاس کې اثر هم د هماغه لړۍ یوه زرینه کړۍ ده.

د دې اثر د موضوع د څېړنې اهمیت، مبرمیت او اړتیا څرګنده او هغه دا ده چې د حمزه بابا په شاعرۍ کې د پښتو او پښتونولۍ مسئلې په اړه، چې زما په اند په ټولو اړخونو کې یې ممتاز او جوت دی، تر اوسه پرې دغسې جامع او هر اړخیزه څېړنه، نه وه تر سره شوې او یوه اکاډمیکه څېړنه یې غوښته، له ښه مرغه چې د پېښور پوهنتون پښتو څانګې د هغې د ترسره کولو له پاره د پښتونخوا پیاوړي شاعر، لیکوال او څېړونکي ښاغلي پروفیسر اباسین یوسفزی صاحب وړ او مناسب ګڼلی او نوموړي د خپل پیاوړي ادبي استعداد، لوړ ادبي

ذوق، پښتني جذبې، ملي احساس او پر دې ټولو سربېره له حمزه بابا سره د پښتو، پښتونولۍ د فکري پیوستون او تړون له مخې دا څېړنه او سپړنه په ښه شان ترسره کړې، له دې امله د پېښور پوهنتون پښتو څانګې دا کړنه او د ښاغلي یوسفزي هاند او هڅې چې په دې لار کې یې کړي او د موضوع د څېړنې حق یې پر ځای کړی، د مننې او ستاینې وړ دي.

د اثر څېړنیز ترتیب او تنظیم په اکاډمیکو اصولو او معیارونو برابر، داسې چې څېړونکي موضوع د پایلې، نتیجې او محاکمې په ګډون په شپږو لویو برخو (بابونو) کې تر بېلابېلو لویو، منځنیو او وړو څنګزنو سرلیکو لاندې په دې ترتیب اوډلې او څېړلې ده: لومړی باب: د حمزه شینواري د ژوند حالات، دویم باب: د قوم او قومیت پېژندنې عمومي تصورات، درېیم باب: د حمزه بابا نه مخکې د قومي تصور نښې نښانې (یو لنډ جاج)، څلورم باب: د حمزه په شاعرۍ کې پښتانه قدرونه، پنځم باب: د حمزه بابا د قومي تصور امتیازات او په وروستي یا شپږ باب کې تر پایلې او عمومي نتیجې (محاکمې) وروسته ټولې حوالې او حاشیې او بیا د اخځلیکونو او معلوماتي سرچینو لیکلړونه راغلي دي.

لیکوال د خپلې څېړنې له پاره د بابا منظوم آثار په پوره غور کتلي او په کې یې د پښتو، پښتانه او پښتونولۍ په باب د شاعر د فکر او نظر مرغلرې پلټلي، نو چې کله په شعرونو کې له دې بیتونو سره مخامخ شوی:

حمزه سفر که د حجاز وي نو هم
زه د پښتون له قافلو سره ځم

***

چې بې تا چا ته ټیټ نه شي ننګیالی زما ژوندون کړه
زړه زما دې مسلمان وي تفکر مې د پښتون کړه

***

ما کوز ورته لیمه کړه زما سر نه ټیټېده
شاید چې محبت کې هم افغان پاتې کېدم

***

که اغیار وایي د دوزخ ژبه ده
زه به جنت ته له پښتو سره ځم

او ....

نو ورته څرګنده شوې چې حمزه بابا د خدای(ج) تر کوره هم د پښتنو له قافلو سره په ملتیا تلل غواړي، له څښتن تعالی څخه ځانته لومړی د مؤمن مسلمان په څېر پاک سپېڅلی او پر ایمان روښانه زړه او بیا د پښتون فکر، عزم او هوډیالیتوب غوښتنه او دعا کوي، په مینه کې خپلې مئینې ته د درناوي له پاره دواړه لېمه ښکته کوي، خو بیا هم خپل افغانیت ورته هیڅکله د سر ټیټولو اجازه نه ورکوي. که پښتون دوښمنه وګړي یې د کینې، حسد او د تعصب د ناوړه مرض او غرض له مخې پر ژبه (پښتو) د دوزخي ژبې تور پورې کوي، خو دی په څرګنده، خپل پښتني ننګ، غیرت چې بې له شکه د کلک ایمان نښې دي، جنت په تللو باندې کلک باور لري او یا داسې نورې بې شمېره شعري بېلګې چې د دې اثر لیکوال یې د سلګونو بېلګو له منځه ډېرې غوره او په زړه پورې بېلګې را اخیستي او بیا یې د خپلې پوهې، لوړ ادبي ذوق او پیاوړي ملي پښتني احساس په رڼا کې په خوږه، رنګینه ادبي ژبه په لنډو خوږو عباراتو او جملو کې د هغو داسې توضیح او تشریح کوي، چې لوستونکي او اورېدونکي یې له هر ټکي نه ډېر خوند او پوره پند اخیستی او خپله ادبي تنده هم پرې خړوبولی شي. لیکوال لیکنه له لفظي او معنوي پیچلتیا نه ژغوري، لیک نخښې یې ښې پر ځای کارولي، د موضوع په اړه له باوري معلوماتي سرچینو څخه یې د مأخذ ښودنې له اکاډمیکو معیارونو سره سمه استفاده کړې او د ټولې لیکنې په پای کې یې د هغو مجموعي لیکلړونه راوړي دي.

په پای کې د هېواد د خپلواکۍ د سلمې کالیزې په ویاړ د دې ارزښتناک اثر د چاپ او خپراوي لهپاره د علومو اکاډمۍ د مشرتابه له ځانګړې پاملرنې څخه په مننې ستاینه کوم، لیکوال ته یې د لا غوره فرهنګي خدمتونو په لاره کې نورو ډېرو بریالیتوبونو او د حضرت حمزه بابا(رح) سپېڅلې اروا ته د څښتن تعالی له درباره د بخښنې له پاره د دعا لاسونه لپه کوم، ټول افغان اولس ته د هېواد د خپلواکۍ د سلمې کالیزې مبارکي وایم او ورته د سراسري سولې، سوکالۍ، هر اړخیزو علمي- فرهنګي پرمختیاوو هیله کوم.

په درنښت

څېړنپوه دکتور سید محي الدین هاشمي

د علومو اکاډمي- دایرة المعارف مرکز

د زمري پنځمه، ۱۳۹۸ل/ د جولای ۲۷مه ۲۰۱۹م

# سریزه

پښتون یو ډېر زوړ ویښ او بېدار قوم دی. د دوی تاریخ په زرګونو کالو خور دی. په دغه سپېڅلي تاریخ کې داسې تاریخي واقعات او سانحې راغلي دي چې د پښتون قام د اعلیٰ اقدارو، روایاتو او هوډ لپاره یې لکه د محک (زرکانۍ) کار کړی دی او پښتانه یې په اصل شکل کې دنیا ته څرګند کړي دي. دې پیاوړي قام چېرته هم د چا سره د زیاتي یا د ظلم سوچ یا عمل نه دی کړی خو چې کله هم چا د دوی په خاوره بلوسه کړې ده یا د دوی د آزادئ تروړلو هڅه یې کړې ده نو بیا چېرې هم غلي نه دي پاتې شوي. د دغه قوتونو سره نېغ په نېغه جنګېدلي او د خپلې خاورې تهذیب، ثقافت او مذهبي اقدارو د حفاظت لپاره یې د خپل ځان او مال د قربانۍ نه ډډه نه ده کړې. د دې قوم د سیمې جغرافیایي حیثیت داسې دی چې د تاریخ په هر دور کې دې خاورې ته د غاصب سترګې سرې پاتې شوې دي خو پښتون ولس ته دا فخر حاصل دی چې هیڅ یو غاصب یې په خپله خاوره بلوسېدلو ته په اسانه نه دی پرېښی. پښتانه په خپله خاوره تهذیب، تمدن، ثقافت، تاریخ او جغرافیه د زړه نه مین دي. څوک چې هم د دوی د چېړلو هڅه وکړي یا ورته په خیرنه سترګه وګوري نو د پښتون د انتقام د اور نه ځان نه شي بچ کولی.

د دې سپېڅلي قام ژبه، لباس، دود دستور او نورې ډېرې خبرې د ټولې نړئ نه ځانګړې او بدلې دي. د دوی د ژوند ژواک رنګ روغن بې شانه فطري او سوچه دی. د دې عظیم ولس د ژوند ضابطه (پښتونولي) یو داسې پیاوړې او نوموړې لاره ده چې د نړئ هغه ټولو قامونو چې د دوی سره یې معاملات راغلي دي، د دوی د خپلې خاورې، وطن، دین او ناموس سره مینه منلې ده او بیا ټول عمر یې د دوی د عظمتونو سندرې ویلې دي.

د قوم د نورو غړو په شان د دې قوم شاعرانو هم د خپلې خاورې د خپل قومیت خوندي ساتلو لپاره کله په شعوري او کله په لاشعوري توګه زیار کړی دی. د دوی دغه زیار د چا نه پټ نه دی بلکې په کتابونو کې خوندي دی. مغلو نه راواخله تر فیرنګیانو، تر روسیانو او تر امریکنیانو پورې د هر غاصب خلاف د دوی په شعر کې د بغاوت نخښې ځلیږي او دغه بغاوت د قومیت او مقامیت په بنیاد دی.

زما د يو نظم "حمزه بابا ته چيتی" يو دوه بندونه وړاندې کوم، کوم چې د حمزه بابا د وفات په څلوېښتمه په جمرود ټېلډې بازار کې اورولی شوی و:

د پښتو ژبې او ادب په مخ کې څير حمزه
زما د قام د مستقبل د خوب تعبير حمزه
تا د شلمې صدی ګونګ پښتون له ژبه ورکړه
د دې پېړی په باباګانو کې امير حمزه

***

په ټيټو سترګو غلي غلي ستا انځور ته ګورم
زړه مې را ډک شي چې دې خپل لوټ شوي کور ته ګورم

***

جګه شمله دنګه غړی په زړه فقير بابا
ستا د شعرونو نه جوړ شوی ستا تصوير بابا
زه دې د فکر د الوت په اندازه پوهېږم
دا به راوينې کړي د اوده پښتون ضمير بابا

***

خو چې پښتون د بې حسی په اوږو سور ته ګورم
زړه مې راډک شي چې دې خپل لوټ شوي کور ته ګورم

امير حمزه خان شينواري (۱۹۰۷- ۱۹۹٤ء) په پښتو شاعری کې د قوميت ډېره لويه او معتبره حواله ده. دا هم يو عجيبه اتفاق دی چې حمزه صاحب په يو وخت يو منلی شوی صوفي هم دی او د قوميت يو ستر علمبردار هم. د دوی د قوميت او مقاميت دغه خوبی نه صرف دوی د پښتو غزل د بابا په چوکی کېنولي دي بلکې د پښتو غزل خصوصاً او نورې شاعری عموماً ټولې لارې چارې او اصطلاحات يې پښتانه کړي دي. دغه انقلاب زه په دې مجبور کړی يم چې د حمزه بابا د قوميت د تصور جاج واخلم او د دوي نه پس په پښتو شاعری د دوي د قوميت د تصور او تخيل اثرات وسنجووم. د تحقيق داصولو تر مخه د دوی نه وړاندې د پښتو شاعرانو په کلام کې د دغه اثراتو جاج اخستل هم ضروري وو، ځکه د دغه بحث نه بغير يوې کوټلې نتيجې ته رسېدل ګران وو.

د حمزه بابا په شاعرۍ کې چېرته داسلامي قوميت، چېرته د پاکستاني قوميت او چېرته د پښتون قوميت ذکر شوی دی. د داخلي شهادتونو نه دا ثابتېږي چې حمزه بابا په بنيادي توګه د پښتون قوميت علمبردار دی او هغه دا ګڼي چې پښتو او اسلام د يو بل سره جخت تړلي دي. زما کوشش دغه و چې د دغه قوميت د تصور څېړنه وکړم او تنقيدي جاج يې واخلم.

په دې مقاله کې دې حقيقت ته پاملرنه شوې ده چې د مستندو وسيلو نه د مقالې لپاره بنيادي حوالې ولټول شي. د دې مقصد لپاره د پښتو نه علاوه داردو او انګرېزۍ کتابونو نه هم د موضوع په هکله ګټه اخستل شوې ده. ورسره د ثانوي حوالو د ضرورت له مخې له اهمو لايبرېرو، شخصيتونو او انټرنېټ نه هم استفاده شوې ده او د هغه ټولو موادو راغونډونه او مطالعه شوې ده کوم چې وخت په وخت په تحقيقي رسالو، مجلو او اخبارونو کې په دغه موضوع خپاره شوي دي.

د حمزه بابا په ژوند، کار او زيار تر ننه زما د علم مطابق د ايم فل او پي ايچ ډي په سطح څلورو سکالرانو تحقيق کړی دی او لا دغه لړۍ دوام لري، خو تر اوسه د بابا د قوميت غونډې په اهمه او ارزښتناکه موضوع څه کوټلی کار نه دی شوی. ما تر خپله وسه د حمزه صاحب د دغه اړخ په هکله د ګڼو معلوماتو راغونډولو هڅه کړې ده. دغه زيار په ليکلي شکل کې په دې مقاله کې موجود دی. هيله ده چې د دې موضوع څېړنکاران به دا د ځان لپاره د وړاندې تلو يو پړاو وګڼي. د دې مقصد لپاره ما د خپل نګران، د پښتو څانګې پېښور پوهنتون د رئيس پروفېسر ډاکټر عبدالوحيد سره څو څو ځله صلاح مشوره وکړه. ما ته اول دا ډېر اسان کار ښکارېدو خو چې څومره زه دغه سمندر ته ورکوزېدم نو غاړې لرې وتې خو د حمزه سره روحاني او علمي تعلق زه د خپل ټاکلي مرام لوري ته روان ساتلی يم. نه يم پوه چې هغه کومه جذبه وه، کوم توان و، کوم تاثير و چې زه يې خپل کار ته په يو مخ داسې چمتو کړی وم چې هاله مې سر وچت کړو چې کله مې کار پای ته ورسوو.

په وړومبي باب کې د حمزه شينواري د ژوند ژواک، تعليم، مشغلو، د شاعرۍ ميدان ته د راتللو، د مرشدنه لاس نيوی، د سيد عبدالستار شاه (بادشاه جان) له اړخه د دوی د فکري او روحاني روزنې او د اردو شاعرۍ نه د پښتو شاعرۍ لوري ته د راتللو لنډه شان قيصه بيان شوې ده.

په دویم باب کې د قوم او قومیت د عمومي تصوراتو په هکله د نړۍ د مفکرانو نظریې او د لغت او انسایکلوپیډیاوو د شوو تعریفونو خاکه او د دغو ټولو سره سره د قرآن او حدیث په رڼا کې د قومیت د عمومي تصوراتو جاج اخستلی شوی دی.

په دریم باب کې د حمزه بابا نه مخکې په پښتو شاعرۍ کې د قومي تصور د نخښو نښانو یو مختصر جاج اخستی شوی دی چې د ابتداء نه واخله تر روښانیانو، د خان بابا خوشحال خان خټک او بیا پړاو پر پړاو تر شلمې پیړۍ د هر دور د خاص خاص یو څو شاعرانو په کلام کې دغه رنګ لټولی شوی دی او د دې سره سره په ولسي شاعرۍ کې هم د قومیت او مقامیت سنجونه او کره کتنه شوې ده.

څلورم باب د حمزه په شاعرۍ کې د پښتنو قدرونو لټون او وضاحت کوي. د پښتون ثقافت د پراخه توکو په هکله د حمزه د شاعرۍ نه ملغلرې راټولې شوې دي او د پښتونولۍ د روزنې او پالنې لپاره د حمزه بابا د جذبو او فکرونو د جاج اخستلو پوره هڅه شوې ده.

هسې خو د قومیت رنګ تقریباً د هر پښتون شاعر په شاعرۍ کې په نظر راځي، خو د حمزه بابا قومي تصور ډېر امتیازات لري د دغه امتیازاتو نندارہ په پنځهم باب کې د ښودلو کوشش شوی دی. د پښتو او اسلام په خپلو کې نزدیکت او د حمزه بابا په دغه هکله ډېره سپېځلې وینا د دغه باب توکي دي.

شپږم باب د مجموعي نتیجې په توګه لیکلی شوی دی. په ټوله مقاله کې چې کوم سوالونه را اوچت شوي دي، په دغه باب کې د هغو سوالونو د ځوابونو لټولو او د مقالې نه د تر لاسه شوو مقصدونو تذکره شوې ده.

په مجموعي توګه د حمزه بابا د قومیت او مقامیت په هکله شوی دغه کار په دغه موضوع یو وړوکی قدم دی چې په راتلونکي وخت کې د څېړنکارانو لپاره د یوې حوالې په توګه پکاربدی شي. په دې موضوع د کار کولو نور هم ډېر ګنجایش موجود دی خو ځنګل د زمرو نه نه خالي کیږي. په حمزه بابا مین هم ډېر دي او د پښتو پښتونولۍ عاشقان هم په درنګړو دي.

د دې سترې خو خوندور کار په خیر سره سرته په رسولو زه د خپل پاک رب ډېر شکر ګزار یم چې زما د قلم نه یې د دغه عظیم کار اخستلو توان راکړو او دومره مهلت یې راکړو چې زه دغه خپل کار ولس ته هم ورسولی شم.

د مقالې د نګران خپل خوږ استاد پروفېسر ډاکټر عبدالوحید نه علاوه د خپل خوږ مشر او مهربان پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک، د کابل پوهنتون د پروفېسر ډاکټر محمداجان حقپال، د جلال آباد پوهنتون پروفېسر ډاکټر زرغونه ریښتین، د خپلو خوږو کشرانو ملګرو پروفېسر فقیر محمد فقیر، پروفېسر شهاب عزیز ارمان او د پښتو اکېډمی د لایبریرین ښاغلي شاهد علي شاه، د اسلامیه کالج پوهنتون پېښور د لایبرېرین ښاغلي تحسین الله او وېب اېډمنسټرېټر ښاغلي ثناء الرحمان د مرستې او ملګرتیا نه بغیر دغه ګران کار سرته رسېدل اسان نه وو. د خپل جانان ملګري او د سبقي پروفېسر ډاکټر اسلم تاثیر افریدي د کتابي مرستې ذکر نه کول به ډېره ناروا وي او په تېره تېره د خپل خوږ کشر عابد خان خلیل بې شانه مننه کوم چې زما د قلم نه وتلي لفظونه یې سمدستي په کمپیوټر ډېر په مینه او توجه خوندي کړي دي.

په نورو محترمو کې د خپلو عزیزانو ډاکټر فضل ناصر قاضي، ډاکټر احسان معبود قاضي، انجنیر ازهر قاضي، ډاکټر فرحانه قاضي، د خپلې درنې کور ودانې او خپلو بچو ډېر شکرګزار یم چې د دوی د مرستې نه بغیر دا کار بیخي ممکن نه و.

الله دې زمونږ نه د قام، امت او انسانیت د سرلوړۍ کار واخلي. (آمین)

په درناوي

ډاکټر اباسین یوسفزی

رئیس رحمان باباچیر پښتو څانګه

اسلامیه کالج پوهنتون پېښور